# نبوي انتخاب شوي احاديث او

# محمدي حکمتونه

(مختار الاحاديث النبوته والحکم المحمديه)

**تاليف: سيد احمد هاشمي**

**ژباړه:**

**اجرالدين اقبال**

# نبوي انتخاب شوي احاديث او

# محمدي حکمتونه

(مختار الاحاديث النبوته والحکم المحمديه)

**تالیف: سید احمد هاشمي**

**ژباړه:**

**اجرالدین اقبال**

بسم الله الرحمن الرحيم

مخخوړ:

د کتاب نامه: نبوي انتخاب شوي احاديث او محمدي حکمتونه - (مختار الاحاديث النبوته والحکم المحمديه)

تاليف: سيد احمد هاشمي

ژباړه : اجرالدين اقبال

تخنيکي چارې: انديال؛ ديني، علمي، فرهنګي او خپرندويه ټولنه

# لړلیک


تقوا ............................................................................ ۱۵

اوږدې جامې مه اغوندئ.................................................................. ۱۵

د مؤمن ذکاوت ...................................................................۱٦

د مظلوم ښېرا .....................................................................۱٦

زکات.............................................................................۱٦

د مظلوم ښېرا .....................................................................۱٦

اختلاف عذاب دی .............................................................. ۱۷

د بنیادم اروا پوهنه............................................................. ۱۷

زغم ............................................................................ ۱۷

دوه مهمې چارې .............................................................. ۱۸

الله تعالی ته غوره .......................................................... ۱۸

غوره وینا ...................................................................... ۱۸

پلورل .......................................................................... ۱۸

لږ خوره ....................................................................... ۱۹

د دوستۍ او دښمنۍ کچه .................................................. ۱۹

د اولاد روزنه.................................................................. ۱۹

د شتمنۍ اغېز ................................................................ ۲۰

د خوب ادب ................................................................. ۲۰

د ديني پوهې ځانګړنه........................................................ ۲۱
د ښه بنده ځانګړنې ........................................................ ۲۱
د مړه خوا ځانګړنې ........................................................ ۲۱
پر کړنو د پښېمانۍ اروا پوهنه ........................................................ ۲۲
حل لار ........................................................ ۲۲
ځان ته پام........................................................ ۲۲
د الله تعالی او خلکو د خوښې لار ........................................................ ۲۲
د درد لرې کولو لار........................................................ ۲۳
د مېرمن خيرات ........................................................ ۲۳
د خوله وازۍ ادب ........................................................ ۲۳
خپله روزي مه کموئ........................................................ ۲٤
د کوروالي ادب........................................................ ۲٤
د واده بلنه ........................................................ ۲٤
د جومات ادب ........................................................ ۲٤
د دعا کولو دود ........................................................ ۲۵
د مؤمن نښه ........................................................ ۲۵
د اوبو څښلو ادب ........................................................ ۲۵
لمونځ ........................................................ ۲۵
جنتي مېرمن........................................................ ۲٦

د ځوړتیا لاملونه ........................................................ ۲۶

اور په تکبیر مړ کړئ ........................................................ ۲۶

اخره زمانه ........................................................ ۲۷

د منفي سيالۍ مخنيوی ........................................................ ۲۷

د استخارې لمونځ ........................................................ ۲۷

عبرت واخلئ ........................................................ ۲۸

د خلکو د پاڅون نښه ........................................................ ۲۸

ښې ځانگړنې ........................................................ ۲۸

د نېکمرغۍ لاملونه ........................................................ ۲۹

دوزخيان ........................................................ ۲۹

د الله تعالی ښه نه ايسي ........................................................ ۲۹

پايښتی ثواب ........................................................ ۲۹

د جنت زېرمې ........................................................ ۳۰

له کينې، د ځان ژغورنې لار ........................................................ ۳۰

د ښځو ارواپوهنه ........................................................ ۳۱

خپگان ........................................................ ۳۱

د الله تعالی غوسه ........................................................ ۳۱

حسرتخور ........................................................ ۳۱

د دنيوي او اخروي ژوند انډول ........................................................ ۳۲

د اړتیا غوښتنې دود ........................................ ۳۲

کانونه راوسپړئ ........................................ ۳۲

له هر چا نیکي مه غواړه ........................................ ۳۳

نکاح او مرکه ........................................ ۳۳

په قرآن کې اندنه ........................................ ۳۳

غمخور ........................................ ۳٤

د حقوقو انډول ........................................ ۳٤

د آیتونو څانګړنې ........................................ ۳٤

ښځې د سړیو ددې چارو له لامله، زنا کوي ........................................ ۳۵

د هلاکت مخنیوی ........................................ ۳۵

غوره ایمان ........................................ ۳۵

د وړې مړول ........................................ ۳۵

مړو شویو ته ډالۍ ........................................ ۳٦

د عالمانو درناوی ........................................ ۳٦

سلامشوره ........................................ ۳٦

مشر رور ........................................ ۳٦

د امانت او خیانت څانګړنې ........................................ ۳٦

نبوي دعا ........................................ ۳۷

مشر پوښتېدونی دی ........................................ ۳۸

زړه سوی ........................................................................................... ۳۸
شرعي شریکبانې ................................................................................. ۳۸
روغ رمټ شتمن به حج ته ځي ................................................................. ۳۹
نېکمرغي ............................................................................................ ۳۹
د کور او قبر د ځورونې اړیکه .............................................................. ۳۹
ځانونه وقایه کړئ ............................................................................... ۳۹
له غذابه خوندي ................................................................................. ۴۰
د الله تعالی لوښی ................................................................................ ۴۰
خپل مور و پلار مه کنځئ ..................................................................... ۴۰
د کنځوونکي ځګی ............................................................................... ۴۱
د رښتیا او دروغو پایلې ........................................................................ ۴۱
په نېکچاریو کې لاروي .......................................................................... ۴۱
د شعر او وینا اغېز .............................................................................. ۴۲
هره دعا یې منل کېږي .......................................................................... ۴۲
حیا یو لرغونی دود دی ........................................................................ ۴۲
حرام پېر پلور ...................................................................................... ۴۲
ناپوه مفتي ........................................................................................... ۴۳
پراخۍ ته په تمه کېدل ........................................................................... ۴۳
د ظلم مخنیوی ..................................................................................... ۴۳

د ناحقه وینې پوښتنه ........................................ ٤٤
ظالمانو ته خبرتیا ............................................... ٤٤
جوماتونه ....................................................... ٤٤
د خلکو د جوړ جاړي ارزښت..................................... ٤٤
ځانونه وساتئ .................................................. ٤٥
د پوهې د پټوونکی عذاب........................................ ٤٥
د ایمان تعریف .................................................. ٤٥
د چارو پایله سنجول............................................. ٤٥
له ګهیځه پر کار بوخت شئ...................................... ٤٦
د کړنو غبرګون ................................................. ٤٦
ثوابي چارې .................................................... ٤٦
رنځورۍ مو ورغوئ ............................................. ٤٧
بریا په زغم ده .................................................. ٤٧
د فکر پولې ..................................................... ٤٧
سوداګر ......................................................... ٤٨
نېکمرغي ....................................................... ٤٨
د مینې زیانونه .................................................. ٤٨
د کونډې خوښه ................................................. ٤٨
سپارښتنې........................................................ ٤٩

د زړه راماتولو لار ........................................................................ ۴۹
د کونتې کارونه ................................................................................ ۴۹
برکت يې مه ختموئ ........................................................................ ۴۹
د چارو سنجونه ............................................................................. ۵۰
د نېکچاري نښه ............................................................................. ۵۰
توړۍ (خاله) ................................................................................... ۵۰
په شک مخ ته مه ځئ ....................................................................... ۵۰
درې ځيزونه پرېږدئ ........................................................................ ۵۱
د اذان او اقامې ترمنځ د وخت اهميت ................................................ ۵۱
ښو چارو ته بلنه ............................................................................. ۵۱
آخرت له پامه مه غورځوئ ................................................................. ۵۱
سود مه خورئ ................................................................................ ۵۲
گناه سپېره ده ................................................................................ ۵۲
له الله تعالى ډار .............................................................................. ۵۲
د نبي کريم بختوره زوکړه ................................................................... ۵۳
ډډه وکړئ ..................................................................................... ۵۳
د قرآن لوستو گټه ........................................................................... ۵۳
زهد ........................................................................................... ۵۴
مېلمه.......................................................................................... ۵۴

د ښځو خپلمنځي زنا ...................................................... ٥٤

د پوروړي عذاب ...................................................... ٥٥

ليکوالې پرښتې ...................................................... ٥٥

حق وينا ...................................................... ٥٥

پر نېکمرغۍ د بد مرغۍ اړونه ...................................................... ٥٥

د جومات ادب ...................................................... ٥٦

د سترګو وهلو مخنيوی ...................................................... ٥٦

بې غيرتي ...................................................... ٥٧

پر جها د علم د زده کړې غوراوی ...................................................... ٥٧

پوهه ...................................................... ٥٧

د بشر حقوق ...................................................... ٥٨

د بوډاتوب نښې ...................................................... ٥٨

له بنده سره د الله تعالی چلن ...................................................... ٥٩

د چارو وېش ...................................................... ٥٩

سپينلمنتوب ...................................................... ٦٠

د کور د مشر خيرات ...................................................... ٦٠

پوهه او زغم ...................................................... ٦٠

پام! ...................................................... ٦٠

بې عدله چارواکی ...................................................... ٦١

د دوه مخې پایله.......................................................٦١
د وصیت ارزښت.......................................................٦١
د لواطت پایله.......................................................٦١
د دروغجن راوي برخلیک.......................................................٦٢
نیم زړښت.......................................................٦٢
د خیالي هیلو برخلیک.......................................................٦٢
د اودس ارزښت.......................................................٦٢
اولاد.......................................................٦٢
د نورو سوکالۍ ته ځان دوزخي کول.......................................................٦٣
د لونړو درناوی.......................................................٦٣
د ښځې د مسافرت شرط.......................................................٦٣
د مسلمان ډارول ستر ظلم دی.......................................................٦٣
له مؤمن او متقي سره اړیکه.......................................................٦٤
د ملګرتوب نښې.......................................................٦٤
د قضاوت شرط.......................................................٦٤
د وسې هومره عزت.......................................................٦٤
نېکچاری کارګر.......................................................٦٥
ناوړه راتلونکې.......................................................٦٥
د چارو پای ته ګورئ.......................................................٦٥

د گناه مخنیونکی رښتونی ډال ........................................................ ٦٦
د کوروالي شرايط .................................................................. ٦٦
آگاهانه خوب ......................................................................... ٦٦
غوره وسله ............................................................................. ٦٦
په مينې د کتو پایله .................................................................. ٦٧
د ملگرتوب پایله ..................................................................... ٦٧

# سریزه

ځوان کهول مو، د هېواد بیارغاونې ته ملا تړلې ده. چې د دې هوډ طبیعي لازمه، د کار پوهې ترخنګ، ژمنتیا، تعهد او پر دیني پوهې ولاړه پازوالي ده.

موږ ددې چارو د پیاوړتیا لپاره، د اسلامي عالمانو له کتابونو هغه حدیثي ټولګې ژباړو، چې له دې موخې سره لاسنیوی وکړي. دا دی د مصر د یوه عالم سید احمد هاشمي، د (( مختار الاحادیث النبوته والحکم المحمدیه: احادیث برگزیده نبوي و حکمت های محمدي )) له یو نیم زر احادیثو مو، دوه سوه یې غوچان کړي او در وړاندې کوو، پر دې تمه چې راتلونکی نسل ته سوکالي ورپرخه شي، د هېواد نامه سرلوړې او په عزت خپل ژوند وکړي.

اجرالدین اقبال

## تقوا

رسول اکرم صلی الله علیه واله ویلي: په هر ځای کې چې یاست، متقي وسه، په کړې ګناه پسې نېکي وکړه، چې ګناه دې محوه او لرې کړي او له خلکو سره ښه چلېږه ( چې په نېکۍ دې یاد کړي.[1] )

## اوږدې جامې مه اغوندئ

۲- رسول اکرم (ص) ویلي: ځان ساتی وسه، کوشنۍ نېکه چاره هم ناڅیزه مه بوله، که څه، له خپل منګي، تږي ته یو کټوری اوبه ورکړې، له دیني رور سره په ورین تندي و چلېږئ. د اوږدو جامو له اغوستو ډډه وکړئ، چې د غرور او تکبر لامل دی (او هر ډول جامې چې د کبر لاملېږي) مه یې اغوندئ. هر ډول جامې چې د غرور لامل شي، د الله تعالی نه خوښېږي. که څوک دې وکنځي او د هغه ناوړه چار پېغور درکړي، چې په تا کې نشته؛ نو ته یې پر هغه عیب، مه تپسوروه، چې پکې دی. پر خپل حال یې پرېږده، چې وځورېږي؛ ځکه ثواب به یې ستا وي. څوک مه کنځئ؛ ځکه کنځل له مسلمان سره نه ښایي.[2]

---

[1] رواه احمد فی المسندو الترمذی عن ابوذر (رض)

[2] رواه الطیالسي و احمدوالبخاري فی الادب المفرد

## د مؤمن ذکاوت

۳- پیغمبر (ص) وایي: د مؤمن ځیرکي او ذکاوت له پامه مه غورځوئ( د مؤمن ځیرکي جدي وګڼئ) په حقیقت کې، مؤمن یې په الهي رڼا ویني (چې پکې ده او واقعي مؤمن د نورو له دننه خبر دی).[۳]

## د مظلوم ښېرا

۴- د مظلوم له ښېرا ډډه وکړئ؛ ځکه دده د ښېرا او الله تعالی ترمنځ څه پرده نشته ( ښېرا یې الله تعالی قبلوي)[٤].

## زکات

ځان ساتي وسئ، پینځګوني لمونځونه وکړئ، د رمضان میاشتې روژه ونیسئ، په اخلاص د خپلو شتمنیو زکات ورکړئ. ځانونه مو د زکات په ورکړې، پاک کړئ. د اولوالامر ومنئ، (چې په پایله) کې د الله تعالی جنت ته ورننوځئ.[۵]

## د مظلوم ښېرا

د مظلوم له ښېرا ځان وساتئ، په واقع کې ښېرا یې له وریځې لوړه ده. الله تعالی وایي: په خپل عزت او جلال مې ( چې له مظلومه

---

[۳] بخاري او ترمذي له ابی سعید خدري روایت کړی دی.

[٤] بخاري او ترمذي له ابن عباس رضی ا لله عنهما روایت کړی دی.

[۵] رواه احمد فی امسند و الحاکم عن ابی امامه

د ظالم حق اخلم) مظلومه! مرسته دې کوم، که څه، وخت تېر شي او حق ځند شي (د مظلوم ښېرا له وريځې تېرېږي او پورته خېژي او الله تعالی يې قبلوي).[٦]

## اختلاف عذاب دی

د الله تعالی پر نعمتونو منښته؛ شکر دی او د نعمت د منښتې پرېښوول کفر دی. چې څوک د لږ نعمت شکر و نه کړي؛ نو د ډېر نعمت شکر به و نه کړي. چې څوک د خلکو له نېکۍ مننه و نه کړي؛ نو د الله تعالی شکر به هم و نه کړي . يو والی او يو زړه توب لورنه ده او اړپېچ او تفرقه عذاب دی.[٧]

## د بنيادم ارواپوهنه

د بنيادم له دوو څيزونو بد ايسي؛ يو مرگ؛ حال دا، مړينه ورته تر بې لارۍ او ديني فتنې غوره ده. بل د شتمنۍ لږوالی، حال دا، لږه شتمني، لږ حساب لري.[٨]

## زغم

زغم د الله تعالی دی او په چارو کې بيړه، د شيطان ده.[٩]

---

[٦] رواه الطبراني عن خزيمه بن ثابت

[٧] رواه احمد و البيهقی عن النعمان بن بشير

[٨] رواه احمد عن محمود بن لبيد.

[٩] رواه ابويعلی والبيهقي عن انس(رض)

## دوه مهمې چارې

الله تعالی په بیړه دوو څیزونو ته سزا ورکوي: یو د الله تعالی له امره سرغړونه کول او بل د مور و پلار د خبرې نه منل، څورول یې او ورسره د لوروني پرې کول.[10]

## الله تعالی ته غوره

الله تعالی ته هغه کړنه خورا غوره ده، چې تل یې کوئ، که څه، لږه وي.[11]

## غوره وینا

الله تعالی ته غوره خبره داده چې بنده ووايي: سبحان الله وبحمده.[12]

## پلورل

د الله تعالیغه بنده ښه ایسي، چې د پلور پېر پرمهال سختي نه کوي که پور ورکوي؛ نو په ورين تندي يې ورکړي او په نرمۍ يې ترې واخلي[13].

---

[10] رواه الطبراني عن ابي بكرة

[11] رواه البخاري و مسلم عن عايشه رضى الله عنها

[12] رواه الترمذي عن ابي ذر (رض)

[13] رواه البيهقي عن ابى هريرة (رض)

## لږ خوره

الله تعالی ته هغه ډېر گران دی، چې لږ خواړه خوري او بدن يې سپک وي.[١٤]

## د دوستۍ او دښمنۍ کچه

له خپل دوست سره دې په يوې کچې دوستي وکړه؛ ځکه ښايي يوه ورځ دې د ښمن شي (او هر څه دې پرمخ راوباسي) او خپل دښمن دې هم ډېر مه ځوروه، ښايي يوه ورځ دې دوست شي (په دوستۍ او دښمنۍ کې منځلاري وسه)[١٥].

## د اولاد روزنه

اولادونه مو په درېيو خويونو وروزئ: لومړی له پېغمبر سره مينه، دوهم د پېغمبر له اهل بيتو سره مينه او درېيم د قرآن لوستل؛ ځکه پر هغه ورځ چې بې د الله تعالی له سيوري بل سيوری نه وي، د قرآن حاملان، د الله تعالی تر سيوري لاندې وي.
چې څوک دا درې خويونه ولري، د قيامت پر ورځ به له انبياوو او غوره کړای شويو سره وي.[١٦]

---

[١٤] رواه الديلمي عن ابن عباس (رض)
[١٥] رواه الترمذی عن ابی هريرة (رض)
[١٦] رواه الديلمی عن علی (رض)

## د شتمنۍ اغېز

چې الله تعالی شتمني درکړې؛ نو پرېږده، د الله تعالی د نعمت اغېز درکې څرګند شي (خپلې کورنۍ ته نفقه ورکړه او له خلکو سره نېکي وکړه)[۱۷].

## د خوب ادب

چې ویده کېدئ؛ نو چې کله لمانځه ته اودس کوئ، اودس وکړئ، په ښۍ ډډه ویده شئ او ووایئ: یا الله تعالی! ځان مې دروسپاره او خپل چار مې درپرېښود، پر تا مې ډډه ووهله، هوډ مې ستا پر لور دی (پناه راکړه) بې له تا بله ډډه او پناه نشته، ((یا الله تعالی! ستا پر کتاب او رالېږلي پېغمبر ایمان لرم))[۱۸].

که بد خوب مو ولید؛ نو کیڼ لوري ته مو تُف وکړئ او الله تعالی ته د شیطان له شره درې ځل پناه یوسئ او پر بل اړخ سملئ[۱۹].

که ښه خوب مو ولید او پرې خوشحاله وئ؛ نو الله تعالی وستایئ او نورو ته یې ووایئ او که بد خوب مو ولید؛ نو له شیطانه یې وبولئ او الله تعالی ته پناه یوسئ او چا ته یې مه وایئ او زیان درته نه رسوي (د مؤمن خوب د الله تعالی له لوري دی)[۲۰].

---

[۱۷] رواه احمد والحاکم

[۱۸] رواه البخاري و مسلم عن البراء بن عازب (رض)

[۱۹] رواه احمد و مسلم عن جابر(رض)

[۲۰] رواه احمد والبخاري عن ابی سعید الخدري (رض)

## د ديني پوهې ځانګړنه

الله تعالی چې د خپل بنده خیر وغواړي، نو په دین کې یې فقیه او پوهوي، له زړه یې د دنیا مینه اخلي او پر خپلو نیمګړنو یې خبروي[۲۱].

## د ښه بنده ځانګړنې

الله تعالی چې د خپل بنده خیر وغواړي، د زړه قلف یې پرانزي او یقین او صدق پکې ږدي، زړه یې د خپلو کړنو پاسوال او څارن ګرځوي، روغ زړه، رښتونې ژبه، ښه خوی، سم چلن، اورېدونکي غوږونه او لیدونې سترګې ورکوي[۲۲].

## د مړه خوا ځانګړنې

الله تعالی چې د کوم بنده خیر غواړي؛ نو مړخوا کوي یې او په زړه کې یې تقوا او ځان ساتنه ورپنځوي او چې بدي یې وغواړي، په سترګو کې یې نیستي او تنګلاسي ورانځوروي ( چې د الله تعالی په لار کې یوه ټنګه هم و نه لګوي )[۲۳].

---

[۲۱] رواه البیهقي و الدیلمي عن انس (رض)

[۲۲] رواه ابوالشیخ ابن حبان فی الثواب عن ابي ذر (رض)

[۲۳] رواه الحیکم الترمذي فی نوادر الاصول عن ابی هریرة (رض)

## پر کړنو د پښېمانۍ ارواپوهنه

چې الله تعالی خپله قضا او قدر ترسره کوي، له خاونده يې (سالم) عقل اخلي، چې قضا او قدر يې ترسره شي او چې امر يې ترسره شو (سالم) عقل ورستنوي او پښېمانېږي[٢٤].

## حل لار

چارې په تدبير او عقل کاروني وکړئ، چې الله تعالی د حل لار در وښيي.[٢٥]

## ځان ته پام

که بل ته مو گوته نيوه؛ نو خپلې نيمگړتياوې رايادې کړئ[٢٦].

## د الله تعالی او خلکو د خوښې لار

له دنيا سره له مينې ډډه کول لاملېږي، چې د الله تعالی خوښ شې او خلکو ته له خپلې اړتيا څخه، د ور زياتې شتمنۍ په ورکړه، په خلکو کې محبوبېږې.[٢٧]

---

[٢٤] رواه الديلمي عن انس و علي (رض)

[٢٥] رواه البخاری فی الادب المفرد

[٢٦] رواه ارافعي فی التدوين والبخاري فی الادب المفرد.

[٢٧] رواه الخطيب فی تاريخ بغداد

## د درد لرې کولو لار

چې د بدن کوم ځای مو درد کاوه، نو لاس پرې کېږدئ او ووایئ: ((د الله تعالی په نامه، او په عزت او ځواکمنۍ یې چې ددې درد له شره پناه در وړم.)) لاس دې راپورته کړه او دا چار ۳، ۵ او ۷ ځله وکړه.

## د مېرمن خیرات

که مېرمن د خپل مېړه له کوره په مشروع لار خیرات ورکړي؛ نو دواړو ته یو رنګ اجر ورکول کیږي او همداراز زېرموال هم دی، چې د مشروع لارې، چا ته خیرات ورکړي؛ نو په ثواب کې یې له خاوند سره یو رنګ دی[۲۸].

## د خوله وازۍ ادب

د خوله وازۍ پرمهال، پر خپله خوله لاس کېږدئ، چې غږ مو پورته نشي؛ په حقیقت کې، شیطان مو پر خوله وازۍ خاندي(شیطان ستاسې پر ستومانۍ او ستړیا خوشحالیږي)[۲۹].

---

[۲۸] رواه البخاري و مسلم عن عایشه (رضی الله عنها)

[۲۹] رواه ابن ماجه عن ابی هریرة (رض)

## خپله روزي مه کموئ

چې څوک خپل مور و پلار ته دعا پرېږدي؛ نو په رښتيا يې روزي کمېږي[30].

## د کوروالي ادب

چې له مېرمن سره مو سملاسئ، نو د دواړو د اړتياوو تر لرې کولو روسته بېل شئ.[31]

## د واده بلنه

واده ته چې وبلل شوئ؛ نو ورشئ (چې بدعت پکې نه وي او د شرعې په تول برابر وي)[32].

## د جومات ادب

چې جومات ته ورننوتئ؛ نو تر کېناستو دمخه، دوه رکعته لمونځ وکړئ.[33]

په جومات کې خندا، په قبر کې د تيارې لامل دی.[34]

---

[30] رواه الديلمي فی مسند الفردوس

[31] رواه ابن عدی عن طلق (رض)

[32] رواه الشيخان عن ابن عمر (رض)

[33] رواه الجماعة عن ابی قتادة الانصاري (رض)

[34] رواه الديلمي عن انس(رض)

## د دعا کولو دود

چې له الله تعالی مو څه غوښتل؛ نو لاسونه مو مخې ته ونیسئ؛ نه سرچپه؛ تر دعا روسته لاسونه مو پر مخ و موښئ، چې الله تعالی پکې برکت ایښي دی.[۳۵]

## د مؤمن نښه

که ښو چارو خوشحاله او بدو خپه کړې؛ نو (پوه شه چې) مؤمن یې.[۳۶]

## د اوبو څښلو ادب

اوبه په یوې ساه مه څښئ، چې د ځیگر د رنځوری لاملېږي؛ بلکې غړپ غړپ یې و څښئ[۳۷].

## لمونځ

چې کله لمونځ کوئ، نو داسې گڼئ، چې دا مې روستی او د الله پامانۍ لمونځ دی (په خورا مینه یې وکړئ).[۳۸]

---

[۳۵] رواه ابو داود عن ابن عباس (رض)

[۳۶] رواه احمد و الفیآ عن ابی امامه (رض)

[۳۷] رواه الدیلمي عن علي (رض)

[۳۸] رواه الدیلمي فی سندالفردوس عن ام سلمة (رض)

## جنتي مېرمن

که مېرمن پنځګوني لمونځونه وکړي، په روژې میاشت کې روژه ونیسي، خپل ناموس وساتي او د مېړه ومني؛ نو جنت ته ځي[39].

## د ځوړتیا لاملونه

لومړی: چې په امت کې مې، دنیا ستره او بادبدبه وبرېښي؛ نو اسلام به یې له زړونو لرې شي او چې په خلکو کې(( پر نېکیو امر او له بدیو منع)) پرېښوول شي؛ نو د وحې برکت پکې نه پاتېږي[40].

دویم: په اخره زمانه کې دوه څیزونه ډېر لږ موندل کېږي:

۱- حلالې پیسې. ۲- ډاډمن ملګری.[41]

## اور په تکبیر مړ کړئ

اور لګېدلی ځای چې مو ولید؛ نو تکبیر ووایئ، چې په حقیقت کې تکبیر یې مړ کوي.[42]

---

[39] رواه احمد عن عبدالرحمان بن عوف (رض)

[40] رواه ترمذي عن ابی هریره (رض)

[41] رواه ابن عدی و ابن عساکر عن ابن عمر (رض)

[42] رواه ابن السنی فی عمل الیوم واللیلة

## اخره زمانه

په اخره زمانه کې د خلکو د دین او دنیا پایښت، په پیسو او شتمنۍ پورې تړاو لري.[43]

## د منفي سیالۍ مخنیوی

که یو څوک له تاسې د شتمنۍ او څېرې له مخې غوراوی لري؛ نو تر ځان کښته وګوره (چې خپه نشې)[44]

## د استخارې لمونځ

د کوم چار هوډ مو چې وکړ؛ نو داستخارې دوه رکعته نفل لمونځ وکړئ (په لومړي رکعت کې ((قل یاایهاالکافرون)) او په دویم کې ((قل هوالله احد)) ووایئ) ورپسې دا دعا ووایئ: ((الله تعالی! ستا په علم استخاره کوم او ستا په مټ وس غواړم او له لورنې دې مرسته غواړم. ښه او بد تقدیرات ستا په لاس کې دي، ته پوهېږې او موږ نه پوهېږو او یوازې ته په پټو چارو خبر یاست. الله تعالی! که دا چار مې د دنیا، دین او آخرت په ګټه وي، راته یې اسان کړه او که پوهېږې، چې پایلې یې ناوړه وي؛ نو رانه یې لرې کړه، ښه مې پر برخه کړه او له شره یې ما وساته، بیا مې پرې خوښ کړه)) پېغمبراکرم وویل: بیا دې خپله اړتیا ووایه[45].

---

[43] رواه الطبراني عن المقدام بن معدی کرب (رض)

[44] رواه الشیخان عن ابی هریره (رض)

[45] رواه البخاري عن جابر بن عبدالله (رض)

## عبرت واخلئ

که یوه جنازه کېښوول شي او خلکو په اوږه کړه؛ نو که مړی مؤمن او صالح وي؛ نو وايي: چې ژر مې يوسئ او که ناصالح وي؛ نو وايي: چېرې مې وړئ؛ بې له انسانه يې هر څيز غږ اوري؛ خو که انسان يې واوري نو مري[٤٦].

## د خلکو د پاڅون نښه

که ( ددين او دنيا ) چارې نا اهلو ته وسپارل شوې ( چې وس او وړتيا يې نه لري؛ نو ددې هېواد د خلکو بدلون او) پاڅون(ساعت ) ته سترگې پر لار وسئ[٤٧].

## ښې ځانگړنې

څوک چې څلور ځانگړنې ولري؛ د دنيا او آخرت ښه يې پر برخه شوي دي:

١-الله تعالی يادوونکې ژبه. ٢-شکر ايستونکی زړه. ٣-پر کړاوونو زغمناک زړه. ۴- هغه مېرمن چې خپل ناموس ساتي او د مېړه شتمني نه ضايع کوي[٤٨].

---

[٤٦] رواه البخاري عن ابی سعيد الخدري(رض)

[٤٧] رواه البخاري عن ابی هريره (رض)

[٤٨] رواه الطبراني عن ابن عباس (رض)

## د نېکمرغۍ لاملونه

ځلور څیزونه د انسان د نېکمرغۍ لاملونه دي:

۱- صالح مېرمن. ۲- نېک اولاد. ۳- صالح ملګري. ۴- روزي یې په خپل ښار کې وي.[49]

## دوزخیان

پر الله تعالی حق دی، چې ځلور ډلې جنت ته بو نه ځي او جنتي نعمتونه پرې و نه څکي:

۱- شرابخور ۲- سودخور ۳- په ناحق د پلار مړي مال خور ۴- د خپل مور و پلار ځورونکی.[50]

## د الله تعالی ښه نه ایسي

الله تعالی ځلور ډلو ته ښه نه ویني:

۱- قسم خور پلورونکی. ۲- کبرجن نشتمن. ۳- بوډا زناکار . ۴- ظالم چارواکی[51].

## پایښتي ثواب

ځلور کړنې تر مړینې روسته پایښتي ثواب لري:

---

[49] رواه الدیلمی و ابن عساکر عن علي (رض)

[50] رواه الحاکم و البیهقي عن ابی هریره (رض)

[51] رواه النسایي في السنن عن ابی هریره (رض)

۱- چې څوک د اسلام د پولو په ساتنه کې ومري. ۲- هغه عالم، چې علم نورو ته ور زده کړي او عمل پرې وشي. ۳- هغه جاري صدقه چې اثار يې پاتې شي. ۴- له چا چې صالح اولاد پاتې شي او مور و پلار ته دعاوې کوي.[٥٢]

## د جنت زېرمې

څلور څيزونه د جنت زېرمې دي:
۱- په پټه خيرات ورکول. ۲- د مصيبت او کړاو پټول. ۳- زړه سوی. ۴- د ((لاحول ولا قوة الابالله)) ويل.[٥٣]
پر درېيو ډلو و لورېږئ:
۱- د يوې ډلې مشر، چې خوار او ذليل شي. ۲- شتمن، چې نشتمن شي. ۳- په ناپوهانو کې پر پوه (چې څومره نصحيت ورته کوي، نه يې اوري[٥٤])

## له کينې، د ځان ژغورنې لار

که غواړئ، د خپلو اړتياوو په لاس ته راوړو کې بريالي شئ؛ نو د زړه رازونه مو وساتئ؛ ځکه د هر نعمت له خاوند سره کينه کېږي.[٥٥]

---

٥٢ رواه احمد والطبراني عن ابی امامة (رض)
٥٣ رواه الخطيب فی تاريخ بغداد عن علی (رض)
٥٤ رواه ابن حبان والخطيب عن انس (رض)
٥٥ رواه ابن عدی و ابو نعيم عن معاذبن جبل(رض)

## د ښځو ارواپوهنه

ښځې مو په ساده جامو روږدې کړئ، که په ښکليو او ښو جامو وپسولل شي؛ نو يې اړباسي چې له کوره ووځي( چې گاونډ، خپلوانو او نورو ته ځان وښيي[٥٦]).

## خپگان

(( لاحول ولاقوة الابالله)) ډېر ووايئ، چې له انسان نه **۹۹** ډوله زيانونه او خپگانونه لرې کوي، چې خورا کوشنی يې خپگان او وهم دی.[٥٧]

## د الله تعالی غوسه

د الله تعالی غوسه پر هغه ظالم زياتيږي، چې پر داسې چا ظلم کوي، چې بې له الله تعالی بل ملاتړ نه لري[٥٨].

## حسرتخور

د قيامت پر ورځ به هغه خورا حسرت خوري، چې په دنيا کې د علم لاس ته راوړو شرايط ورته چمتو شي؛ خو تر لاسه يې نه کړي

---

[٥٦] رواه ابن عدی فی الکامل فی ضعفا الرجال عن انس (رض)

[٥٧] رواه العقيلی عن جابر (رض)

[٥٨] رواه الديلمي عن علي (رض)

او بل هغه چې پوهه يې تر لاسه کړې وي او خلکو ترې برخمن شوي هم وي؛ خو پخپله ترې بې برخې وي.[٥٩]

## د دنيوي او اخروي ژوند انډول

الف: دنيوي چارې مو سمې کړئ، آخرت ته داسې کړنې وکړئ، لکه چې سبا به مرئ.[٦٠]

ب: دنيا ته داسې هڅه وکړه؛ لکه چې تل ژوندی پاتېږې او آخرت ته داسې هڅه وکړه؛ لکه چې سبا به مرې[٦١].

## د اړتيا غوښتنې دود

په عزت نفس خپلې اړتياوې وغواړئ؛ ځکه [دنيوي] چارې په الهي تقدير ترسره کېږي.[٦٢]

## کانونه راوسپړئ

روزي د ځمکې په ژورو کې ولټوئ (د غلو او ونو کرنه او د کانونو راسپړل).[٦٣]

---

[٥٩] رواه ابن عساکر عن انس (رض)

[٦٠] رواه الديلمی عن انس (رض)

[٦١] رواه ابن عساکر فی تاريخ دمشق

[٦٢] رواه ابن عساکر عن عبدالله بن عمر (رض)

[٦٣] رواه ابو يعلی والبيهقی عن عايشه (رض)

## له هر چا نېکي مه غواړه

د امت له لورينو مې نېکي وغواړئ او ورسره شئ، له تور زړيو او سرغړاندو د نېکۍ تمه مه لره، ډاډمن وسه، چې د الله تعالی لعنت پرې ورنازلېږي، علي! الله تعالی نېکي و پنځوله او اهل يې ورته پنځولی، نېکي يې په زړه کې ورته ايښې او د ښو چارو کل يې ورته ښه ايسولې ده او د نېکيو غوښتونکی يې دوی ته ور متوجه کړي؛ لکه چې اوبه شاړو ځمکو ته لېږي، چې په باران، ځمکوال ژوندي پاتې شي، د دنيا نېکان، هماغه د آخرت نېکان دي[٦٤].

## نکاح او مرکه

نکاح ښکاره کړئ او مرکه پټه وکړئ.[٦٥]

## په قرآن کې اندنه

له عبادته، د خپلو سترګو برخه ډالۍ کړئ؛ د قران ښکلي ليک ته و ګورئ او تفکر (اندنه) پکې وکړئ او له هېښنده او مانا ډکو ويناوو يې پند واخلئ.[٦٦]

[٦٤] رواه الحاکم عن علي (رض)

[٦٥] رواه الديلمي عن ام سلمة (رض)

[٦٦] رواه البيهقی والترمذي عن ابی سعيد الخدري

## غمخور

خورا غمخور هغه دی، چې د نیوي او اخروي چارو ته اهمیت ورکوي.

## د حقوقو انډول

پر ښځو د نارینه و خورا ستر حق، پر مېرمن د مېړه حق دی او پر نارینه و د ښځو خورا ستر حق، پر زوی د مور حق دی[٦٧].

د برکت او ښه والي له پلوه هغوی ښې ښځې دي، چې لګښت یې لږ وي.

## د آیتونو ځانګړنې

آیت الکرسي د قرآن اوږد آیت دی، هغه آیت چې پر عدالت امر کوي (ان الله یامر بالعدل....) آیت دی. هغه آیت چې انسان له آخرته ډاروي: ((فمن یعمل مثقال ذرة.....) آیت دی، هیلمنونکی آیت دادی ( قل یا عبادی الذین اسرفوا.....) دی.[٦٨]

---

[٦٧] رواه انسایي والحاکم عن عایشه (رض)

[٦٨] رواه الشیرازی فی الاالقاب و ابن مردویه عن ابن مسعود (رض)

## ښځې د سړیو ددې چارو له لامله، زنا کوي

جامې مو و مینځئ، د بدن وېښتان مو واخلئ او لنډ کړئ، مسواک ووهئ او ځانونه ښکلي کړئ، بني اسرائیلو دا چارې نه کولې؛ نو ځکه د پاکوالي د نه مراعاتولو له لامله یې ښځو زنا کوله.[69]

## د هلاکت مخنیوی

ګهیځ چې ویښ شوې ۱- یا عالم وسه. ۲- یا متعلم. ۳- یا اورېدونکی. ۴-او یا دوی ښه ګڼه او پینځمی مه اوسه چې هلاک نشې.

## غوره ایمان

د ایمان خورا لوړه درجه داده، په هر ځای کې چې یاست، پوه شې چې الله تعالی راسره دی[70].

## د وږي مړول

ستر خیرات، د وږي مړول دي.[71]

---

[69] رواه ابن عساکر عن علی (رض)

[70] رواه الطبرانی عن عبادة بن صامت (رض)

[71] رواه البیهقی عن انس (رض)

## مړو شويو ته ډالۍ

مړيو ته مو، ياسين سورت ولولئ.[۷۲]

## د عالمانو درناوی

د عالمانو درناوی وکړئ؛ ځکه د انبياوو وارثان دي، چا يې چې درناوی وکړ؛ نو د الله تعالی او استازی يې درناوی کړی دی[۷۳].

## سلامشوره

عقل هغه دی، چې له عقلمن سره سلامشوره وکړې او له منلو روسته يې عملي کړې.[۷٤]

## مشر رور

مشر رور، د پلار پر ځای دی.[۷۵]

## د امانت او خيانت ځانګړنې

امانت د روزۍ جلبولو لامل دی. خيانت نيستي او ګدايي راولي.[۷٦]

---

[۷۲] رواه احمد و ابو داوود.
[۷۳] رواه الخطيب عن جابېر (رض)
[۷٤] رواه ابوداود
[۷۵] رواه ابن عدي و البيهقي.
[۷٦] رواه الديلمي

د خلکو د لارې پر سر پراته خنډونه لرې کړه، چې دا به دې خیرات وي.[۷۷]

## نبوي دعا

الف: یا الله تعالی! منندوی او زغمناک مې کړه، په خپلو سترګو کې مې کوشنی او د نورو په سترګو کې مې ستر کړه.

ب: یا الله تعالی! له بېوسۍ، ناغېړۍ، ډار، کنجوسۍ، زړښت، د قبر له عذابه، دوزخ د اور له عذابه، د ژوند له فتنې (اړ و دوړ) او د مرګ له فتنې پناه در وړم.[۷۸]

ج: یا الله تعالی! په پوهې مې مړه خوا کړې، په زغم مې ښکلی کړې، په تقوا او ځان ساتنه مې دروند وګڼې او په عافیت مې نېکنام کړې.[۷۹]

د: الله تعالی! له ټګیجن ملګري پناه در وړم، چې سترګې یې ما ویني او زړه یې زما حالات څاري، نېکي مې پټوي او زما بد په ډاګه کوي.[۸۰]

---

[۷۷] رواه البخاري ومسلم

[۷۸] رواه البخاري و مسلم عن انس (رض)

[۷۹] رواه ابن النجار عن ابن عمر (رض)

[۸۰] رواه ابن النجار عن سعد بن سعید المقبری مرسلاً

## مشر پوښتېدونی دی

الله تعالی مشر او پالندوی پوښتي، چې څرنګه پالنه او مشري یې کړې ده، ایا د هغوی حق یې پر ځای یا ضایع کړی دی، ان د کورنۍ مشر پوښتي (چې څرنګه ورسره چلېده).[81]

## زړه سوی

الله تعالی د اسمانونو او ځمکې تر پیدایښت مخکې، په ام الکتاب کې کښلي: په واقع کې زه لوراند یم، لورنه مې پنځولې او له خپلو نومونو مې، یو نوم، لورنې ته ورځانګړی کړی، چې څوک زړه سواندی وي، راسره به ونښلول شي او چې زړه سوی پرې کړي؛ نو له لورنې به مې لرې شوی وي.[82]

## شرعي شریکبانۍ

الله تعالی وایي: په دنیوي چارو کې، د دوو شریکبانو، زه درېیم شریک بانی یم، په دې شرط چې یو له بل سره خیانت و نه کړي، که یو ورسره خیانت وکړي، زه ترې وځم[83].

---

[81] رواه ابن حبان عن انس (رض)

[82] رواه الطبراني عن جرير بن عبدالله (رض)

[83] رواه ابو داود عن ابی هریرة(رض)

## روغ رمټ شتمن به حج ته ځي

الله تعالی وايي، چې چاته مې بدني روغتيا، شتمني او سوکالي ورکړې وي او پينځه کاله پرې تېر شي او د کعبې طواف ته ولاړ نه شي؛ نو (له لورنې مې) بې برخې دی[٨٤].

## نېکمرغي

د الله تعالی په اطاعت کې اوږد عمر تېرول، خورا ښه نېکمرغي ده.[٨٥]

## د کور او قبر د ځورونې اړيکه

رښتيا، څه دې چې پر ژوندونې په کور کې ځوروي؛ نو په قبر کې به دې هم ځوروي.[٨٦]

## ځانونه وقايه کړئ

پټ خيرات ورکول، د الله تعالی غوسه سړوي، زړه سوی عمر زياتوي، ښه چارې، له انسانه نادودې او بد کړاوونه لرې کوي، د ((لااله الاالله)) ويل، نهه نوي (٩٩) بلاوې لرې کوي، چې وړه يې غم دی[٨٧].

---

[٨٤] رواه ابو يعلي و ابن حبان عن ابی سعيد الخدري(رض)
[٨٥] رواه الخطيب
[٨٦] رواه الديلمي
[٨٧] رواه ابن عساکر عن ابن عباس (رض)

شتمني مو په زکات خوندي کړئ، رنځوري مو د خيرات په ورکړې ورغوئ او په دعا د بلاګانو مخه ونيسئ[88].

## له غذابه خوندي

الله تعالی د خلکو د اړتياوو د پوره کولو لپاره، ځينې بندګان ځانګړي کړي، چې خلک ورځي، چې دا ځانګړي بندګان، د الله تعالی له عذابه خوندي دي.[89]

## د الله تعالی لوښی

الله تعالی له ځمکوالو د ځان لپاره يو لوښی لري، چې دا د صالحو بندګانو زړه دی، چې په دوی کې، الله تعالی ته خورا ګران يې، نرم او مهربان زړه دی[90].

## خپل مور و پلار مه کنځئ

د بل چا مور و پلار ته کنځل، په واقع کې د خپل مور و پلار کنځل دي، چې دا خورا ستره ګناه ده[91].

---

[88] رواه الطبراني عن ابن مسعود(رض)

[89] رواه الطبراني عن ابن عمر (رض)

[90] رواه الطبراني

[91] رواه البخاري و مسلم عن عايشه(رض)

## د کنځوونکي ځګی

د قیامت پر ورځ، د الله تعالی په نزد هغه ډېر ټیټ مقامی دی، چې خلکو ورسره له دې لامله اړیکه پرې کړې وي، چې بدژبی او کنځوونکی دی[٩٢].

## د رښتیا او دروغو پایلې

په رښتیا، صداقت انسان د نېکۍ پر لور ورسیخوي او نېکي، انسان جنت ته بوځي. ځینې دومره رښتین دي، چې د الله تعالی پر وړاندې رښتین کښل کېږي. دروغ ، انسان فسق ته ورکاږي او فسق، بنیادم دوزخ ته ورکاږي او په واقع کې، ځینې په دروغو کې دومره زیاتی کوي، چې نوم یې د الله تعالی په نزد، په دروغجنو کې کښل کېږي.[٩٣]

## په نېکچاریو کې لاروي

یوازې په ښه (شرعي) چارو کې د اولوالامر اطاعت واجب دی[٩٤].

---

[٩٢] رواه البخاري ومسلم عن عایشه (رض)

[٩٣] رواه البخاري و مسلم عن ابن مسعود (رض)

[٩٤] رواه لبخاری ومسلم عن علي (رض)

## د شعر او وینا اغېز

په واقع کې ځینې ویناوې د کوډو په څېر وي ( انسان تر اغېز لاندې راولي ) او په ځینو اشعارو کې ( معنوي ) حکمت رانغښتل شوی دی[۹۵].

## هره دعا یې منل کېږي

په حقیقت کې ځینې بندګان شته، چې که له الله تعالی هر څه و غواړي الله تعالی ماغسې کوي( او دعا یې قبلېږي ).

## حیا یو لرغونی دود دی

په واقع کې له هغو خبرو، چې خلکو د تېرو پېغمبرانو له ویناوو، درک کړي، یوه یې داده(( چې حیا و نه کړې؛ نو څه دې چې خوښه وي، کوه یې[۹۶] ))

## حرام پېر پلور

الله تعالی د شرابو، مردارې غوښې، خوک او بوت پېروپلور حرام کړی دی.[۹۷]

---

[۹۵] رواه بجاري فی الاداب المفرد عن ابن عباس (رض)

[۹۶] رواه البخاري عن ابی مسعود

[۹۷] رواه البخاري و مسلم عن جابر (رض)

## ناپوه مفتي

الله تعالی له خپلو بندګانو یومخې پوهه او علم نه اخلي، چې بیخي یې ترې یوې خواته کړي؛ خو د عالمانو په مړینه یې ترې اخلي، چې په خلکو کې متقي او (لاربنود) عالم پاتې نشي. (بیا) خلک ناپوهان خپل مشران کوي او ترې پوښتي او دوی هم بې علمه فتواوې ورکوي؛ نو پخپله هم بې لارې دي او خلک هم بې لارې کوي.[۹۸]

## پراخۍ ته په تمه کېدل

د الله تعالی له لوري، په چارو کې پراخۍ ته انتظار عبادت دی، چې څوک په لږې روزۍ راضي او قانع شي؛ نو الله تعالی به په لږ عمل هم ترې راضي شي.[۹۹]

## د ظلم مخنیوی

له خپل ظالم او مظلوم رور سره مرسته وکړئ، و پوښتل شو چې له ظالم سره څنګه مرسته وکړو؟ و یې ویل: ظالم له ظلمه منع کول ورسره مرسته ده. رواه البخاري عن انس (رض)

---

[۹۸] رواه البخاري و مسلم

[۹۹] رواه ابن ابی الدنیا والبیهقی عن علي (رض)

## د ناحقه وینې پوښتنه

د قیامت پر ورځ، لومړی څیز چې په خلکو کې پوښتل کیږي؛ هغه وینه ده چې په ناحقه تویه شوې وي.[100]

## ظالمانو ته خبرتیا

الله تعالی، حضرت داوود علیه السلام ته وحې وکړه، چې ظالمانو ته ووایئ: مه مې یادوئ؛ ځکه څوک مې چې یاد کړي، زه یې هم یادوم؛ خو ظالمانو ته زما یاد، پر دوی زما لعنت دی.[101]

## جوماتونه

د ځمکې پر مخ لومړی (( مسجدالحرام )) او بیا (( مسجدالاقصی )) جوړ شوي دي[102].

## د خلکو د جوړ جاړي ارزښت

آیا داسې یو څیز دروښیم چې ثواب یې تر (نفلي) روژې او (نفلي) لمانځه او خیراته لوړ وي؟ وویل شو: هو.
و یې ویل: د دوو تېرونو ترمنځ جوړ جاړی راوستل ( د تولنې سمونه) او په رښتیا، اړپېچ، کینه او فساد، دین له منځه وړي.[103]

---

[100] رواه الخاري و مسلم عن ابن مسعود (رض)
[101] رواه ابن عساکر و البیهقي عن ابن عباس (رض)
[102] رواه البخاري و مسلم عن ابی ذر(رض)
[103] رواه ابو داود و الترمذي عن ابی الدرداء(رض)

## ځانونه وساتئ

کبر مه کوئ، په حقیقت کې تکبر ابلیس اړ کړ، چې آدم ته سجده ونه کړي. له حرص او تمې ځان وساتئ؛ ځکه حرص آدم اړ کړ، چې له ونې وخوري. له کینې ډډه وکړئ؛ ځکه کینه لامل شوه، د آدم زامن یو یې بل ووژني؛ کبر، حرص او کینه د ټولو ګناهونو جرړه ده.[104]

## د پوهې د پټوونکی عذاب

الله تعالی چې چاته پوهه ورکړې وي او پټه یې کړي، د قیامت پر ورځ به یې اورینه قبضه ور تر غاړې وي[105].

## د ایمان تعریف

ایمان؛ په زړه پېژندنه، په خوله منښته او په غړیو عمل کول دي.[106]

## د چارو پایله سنجول

هوښیار وسئ، داسې چار مه کوئ، چې بیا یې معافي او ښښنه وغواړئ[107].

---

[104] رواه ابن عساکر عن ابن مسعود(رض)

[105] رواه الطبراني عن ابن مسعود(رض)

[106] رواه ابن ماجه عن علي(رض)

[107] رواه الطبراني عن جابر(رض)

د مؤمن له ځيرکتيا ځان وساتئ؛ ځکه هغه يې په الهي رڼا ويني[۱۰۸].

## له ګهيځه پر کار بوخت شئ

ګهيځ وختي د خپلو اړتياوو او رزق تر لاسه کولو لپاره ووځئ؛ ځکه په ګهيځ کې برکت او بريا ده[۱۰۹].

## د کړنو غبرګون

له پلرونو سره مو نېکي وکړئ، چې اولادونه مو درسره ښه وکړي، د نامحرمو ښځو په باب پاکلمني وسئ، چې ښځې مو پاکلمنې وي، چې څوک معذرت و نه مني، د کوثر حوض ته به رانشي[۱۱۰].

## ثوابي چارې

له خپل رور سره په خندا مخامخېدل، بر نېکيو امر او له بديو منع، لار ورکي ته لارښوونه، د لارې له سره د ډبرې، اغزي يا هډوکي لرې کول، هر يو ته ثواب کښل کېږي.

---

۱۰۸ رواه البخاري فى التاريخ والترمذي عن ابى سعيد الخدري

۱۰۹ رواه ابن عدي عن عايشه (رض)

۱۱۰ رواه الحاكم عن جابر

## رنځوري مو ورغوئ

د الله تعالی بندګانو! د خپلو دردونو علاج وکړئ، په واقع کې الله تعالی هر درد ته درمل پیدا کړي دي؛ خو بې له زړښته (چې درمل نه لري)[111].

## بریا په زغم ده

د روغتیا په حالت کې الله تعالی وموړئ او یاد کړئ، چې په سختیو او خپګان کې مو، الله تعالی ومومي او یاد کړي. پوه شه چې څه مو له لاسه ورکړي، شونې نه ده، بېرته یې تر لاسه کړئ او چې څه دې په برخه کېږي، ناشوني ده، درنه تېره شي. په واقع کې، بریا له زغم سره ده او له هرې سختۍ سره اساني ده[112].

## د فکر پولې

د الله تعالی په مخلوقاتو کې فکر او غور وکړئ؛ خو د الله تعالی په ذات کې فکر مه کوئ، چې هلاک به شئ.[113]

---

[111] رواه احمد والحاکم عن اسامه بن شریک.

[112] رواه الترمذي و احمد عن ابن عباس (رض)

[113] رواه ابوالشیخ فی العظمة عن ابی ذر (رض)

## سوداګر

امین او رښتین سوداګر له پیغمبرانو، صدیقانو، شهیدانو او صالحینو سره محشور یږي.[114]

## نېکمرغي

د مسلمان د نېکمرغۍ درې ځانګړنې دادي: ۱- ښه ګاونډی. ۲- پراخ کور. ۳- د سپرلۍ ښه وزله.[115]

## د مینې زیانونه

له تا سره د خپل رور مینه، په دریو څیزونو زیاتیږي: ۱- په مخامخېدو کې، مخکې پرې سلام واچوه. ۲- چې غونډې ته رانووت، ځای ورکړه. ۳- په ښه نوم یې بوله.[116]

## د کونډې خوښه

کونډه له خپل لوري او نېغ په نېغه خبرې کړای او اجازه ورکولای شي او د نجلۍ چوپتیا یې د خوښۍ نښه ده[117].

---

[114] رواه الترمذي و الحاکم عن ابي سعید(رض)

[115] رواه احمد والحاکم عن نافع بن عبدالحارث

[116] رواه الحاکم و البیهقی عن عثمان بن طلحه(رض)

[117] رواه الحاکم والبیهقي عن عثمان بن طلحه(رض)

## سپارښتنې

له مشرانو سره کېنئ، پوهان وپوښتئ، له حکیمانو او تجربووالو سره ملګرتوب وکړئ.[118]

## د زړه راماتولو لار

زړونه د هغه پر لوري ورکږېږي، چې نېکي یې ورسره کړې وي او له هغه تښتي، چې بدي یې ترې لیدلې وي.[119]

## د کونتې کارونه

د کونتې کارول د مؤمن نښه او د پېغمبرانو سنت دی[120].

## برکت یې مه ختموئ

په راکړه ورکړه کې، په قسم خوړو، څیزونه پلورل کېږي؛ خو برکت یې ورکېږي.[121]

---

[118] رواه الطبراني عن ابي جحفة (رض)

[119] رواه ابونعیم في حلیة الاولیاء عن ابن مسعود.

[120] رواه الدیلمي عن حدیث انس بن مالک (رض)

[121] رواه البخاري و مسلم عن ابي هریره (رض)

## د چارو سنجونه

هر چار په تدبير وکړئ، و يې سنجوئ، که يې پايله ښه وه، و يې کړئ او که وډار شوئ، چې پکې زيان دی؛ نو مه يې کوئ.[122]

## د نېکچاري نښه

په تاسې کې خورا نېکچاری هغه دی، چې ليدنه يې، الله تعالی درياد کړي، په خبرو يې ستا پوهه زياته شي او کړه وړه يې، تا د آخرت چارو ته و هڅوي.[123]

## توړی (خاله)

د مور د خور مقام د مور په څېر دی، کوم درناوی چې مور ته لرئ، بايد توړی ته يې هم ولرئ.[124]

## په شک مخ ته مه ځئ

چې څه مو شکمنوي، ورشا کړئ او چې مو نه شکمنوي؛ نو ورمخ کړئ. رښتيا، د ډاډمنۍ لامل دی او دروغ د شک او خپگان.[125]

---

[122] رواه عبدالرزاق عن انس (رض)

[123] رواه الترمذي عن ابن عباس (رض)

[124] رواه البخاري عن البرأ بن عازب (رض)

[125] رواه الترمذي والنسايي عن الحسن بن علي (رض)

## درې څیزونه پرېږدئ

دا پرېږدئ چې پلاني داسې او هاغسې وویل. ډېر مه پوښتئ او مال مه ضایع کوئ.[۱۲۶]

## د اذان او اقامې ترمنځ د وخت اهمیت

د اذان او اقامې ترمنځ دعا نه ردېږي[۱۲۷].

## ښو چارو ته بلنه

چې څوک نورو ته د ښو چارو لار ورښيي؛ نو داسې دی چې پخپله یې هغه کار کړی دی. د بېوزلیو لاسنیوی، دالله تعالی ښه ایسي.[۱۲۸]

## آخرت له پامه مه غورځوئ

دنیا د خوندونو وزله، ظاهره، حاضره، او ژر تېرېدونې ده، ښه او بد ترې گټنه کوي. آخرت رښتونې ژمنه ده. عادل پاچا پرې واکمن دی، حق عملي کوي او باطل له منځه وړي؛ نو د آخرت

---

[۱۲۶] رواه الطبراني عن ابن مسعود(رض)

[۱۲۷] رواه ابو داود والترمذي عن انس(رض)

[۱۲۸] رواه تمام الرازي في الفوائد و ابن عدي في الكامل عن بريدة (رض)

له اولادونو وسئ؛ نه د دنیا؛ ځکه هره مور خپل اولاد په ځان پسې راکاږي.[۱۲۹]

## سود مه خورئ

سره په سرو، سپین په سپینو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، کجورې په کجورو او مالګه په مالګې، باید برابر او مساوي لاس په لاس او بدل شي، چې څوک څه زيات کړي يا زيات و غواړي؛ نو سودخور دی. د ورکوونکي او اخستونکي ګناه يوه ده (او پر غذاب به اخته شي)[۱۳۰].

## ګناه سپېره ده

ګناه هغه ته سپېره ده، چې يې کړې نه وي؛ ځکه که ګناهکار تېسورى کړي، پخپله پرې اخته کېږي او که غيبت يې وکړي ګناهکار به شي او که پر ګناه يې خوښي وښيي؛ نو شريکبانى به يې وي.[۱۳۱]

## له الله تعالی ډار

د حکمت بنسټ، له الله تعالی ډار دي[۱۳۲].

---

۱۲۹ رواه البخاري عن علي (رض)

۱۳۰ رواه مسلم عن ابی سعيد الخدري (رض)

۱۳۱ رواه الديلمي عن انس (رض)

۱۳۲ رواه الحكيم الترمذي عن ابن مسعود(رض)

## د نبي کريم بختوره زوکړه

زه په سمې شرعي نکاح دنيا ته راغلی يم؛ نه د شرع پرخلاف، له آدم عليه السلام څخه نيولي، ترديې چې مور و پلار مې وزيږولم، د جاهليت پير کوم نامشروع څيز راسره لګيدلی نه دی.[۱۳۳]

چې مور مې وزيږولم؛ نو يوه رڼا ترې وځليده، چې (په شام کې) د ((قصری)) ماڼې ورته شکاره شوه.[۱۳۴]

## ډډه وکړئ

ډيری عابدان ناپوهه دي او ډيری علمان فاجر دي، له ناپوهو عابدانو او فاجرو عالمانو ډډه وکړئ.[۱۳۵]

## د قرآن لوستو ګټه

ډيری د شرع حاملان، ناپوهه او غير فقيه دي، چاته يې چې پوهه ګټه و نه رسوي؛ نو ناپوهي يې زيان ور رسوي. قرآن ولولئ، چې له بد چارو مو لرې وساتي او که لرې يې نه کړې؛ نو قرآن دې لوستی نه دی[۱۳۶].

---

[۱۳۳] رواه الطبراني عن علی بن ابی طالب (رض)

[۱۳۴] رواه ابن سعد فی الطبقات الکبری واحمد والطبراني عن ابی امامه

[۱۳۵] رواه ابن عدی و الديلمي عن ابی امامة (رض)

[۱۳۶] رواه الطبراني

## زهد

په دنیا کې حلالو ته شا او د مال ضایع کول زهد نه دی؛ بلکې چې څه دې په واک کې وي، پر هغه څه یې غوره و نه گڼې، چې د الله تعالی په واک کې دي او چې کړاو در ورسي، پرې خوشحاله شې، چې په ثواب کې یې شریک شې، که څه، کړاو دې اوږد شي، چې ډېر ثواب وگټې (دنیوي کړاوونو ته مه ورخطا کېږئ)[۱۳۷].

## مېلمه

دا انسان ته بې عقلي ده، چې په مېلمه کار وکړي.[۱۳۸]
مېلمه ته د خپلې وسې هومره تیاری ونیسئ.[۱۳۹]

## د ښځو خپلمنځي زنا

د ښځو خپلمنځي همجنس بازي د دوی زنا شمېرل کېږي[۱٤۰].

---

[۱۳۷] رواه الترمذي و ابن ماجه عن ابی ذر (رض)
[۱۳۸] رواه الدیلمي عن ابن عباس (رض)
[۱۳۹] رواه الحاکم والبیهقي عن سلمان الفارسي

[۱٤۰] رواه الطبراني عن وائله بن الاسقع (رض)

## د پوروړي عذاب

پور وړی په قبر کې تړل شوی او یوازې د پور ورکونه یې پرانستای شي.[١٤١]

## لیکوالې پرښتې

د ښی اوږې پرښته د کیڼې اوږې پر پرښتې امیره ده، چې څوک یو ښه چار وکړي، دوه ګرایه ثواب ورته لیکي او چې بد چارو وکړي، د کیڼ لاس پرښتې ته وایي، چې شپږ ساعته صبر وکړه، څه مه لیکه، چې ښښنه و غواړي؛ نو که ښښنه یې وغوښته، په کړنلیک کې یې څه نه کښل کیږي او که ښښنه یې و نه غوښته او پښېمانه نشو؛ نو یوه ګناه ورته لیکي.[١٤٢]

## حق وینا

زړه سوی وکړه، چې چا درسره بدي کړې وي، نېکي ورسره وکړه، حق ووایه، که څه، په زیان دې وي.[١٤٣]

## پر نېکمرغی د بد مرغی اړونه

که خیرات په واقعي توګه ورکړای شي، نېکې چارې، له مور و پلار سره نېکي او زړه سوی وشي؛ نو د ا څیزونه بد مرغي پر

---

[١٤١] رواه الدیلمي عن ابی سعید الخدري (رض)

[١٤٢] رواه الطبراني و البیهقي عن ابی امامة الباهلي.

[١٤٣] رواه ابن النجار عن علي (رض)

نېکمرغۍ اړوي، عمر زیاتوي او انسان له ناوړو ګوزارونو ساتي.[١٤٤]

## د جومات ادب

فقهاء (او دين پوهان) د رسولانو امينان دي؛ خو تر هغې چې دنيا ته ور نه ننوځي او په (ظالمو) چارواکيو پسې ولاړ نشي؛ نو که دنيا ته ورننوتل او په ظالمو واکمنو پسې ولاړل؛ نو ځانونه ترې وساتئ.[١٤٥]

## د سترګو وهلو مخنيوی

کوشنی شی، د سترګو وهل حقيقت لري، ځان ترې بچ کړئ.[١٤٦] له بدو سترګو د ساتلو لپاره په قرآن مجيد کې اته آيتونه دي: فاتحة الكتاب ( يعني الحمد ) او آيت الكرسي. ( د الحمد اووه آيتونه او ايت الكرسي يو آيت چې ولوستل شي، له بدو سترګو به خوندي يئ )[١٤٧].

---

[١٤٤] رواه احمد و الطبراني والحاكم عن عبدالله بن عمرو عاص (رض)

[١٤٥] رواه العسكري في الامثال عن علي (رض)

[١٤٦] رواه البخاري ومسلم عن ابي هريرة (رض)

[١٤٧] رواه الديلمي عن عمران بن حصين (رض)

په کوم کور کې چې فاتحة الکتاب او آیت الکرسي وویل شي؛ نو پر هغه ورځ به د کور وسېدونکي، د انس و جن له بدو سترګو خوندي وي.[١٤٨]

## بې غيرتي

غيرت د ايمان نښه ده او له حيثيته دفاع نه کول؛ بې غيرتي او د نفاق نښه ده.[١٤٩]

## پر جها د علم د زده کړې غوراوی

ګهيځ او ماښام د علم زده کړه، الله تعالی ته تر في سبيل الله جهاده غوره ده.[١٥٠]

## پوهه

علم دوه ډوله دی: يو هغه چې په زړه کې دی، چې د انسان دننه ته ګټور دی. بل هغه چې پر ژبه دی، چې دا پر بنيادم [د الله تعالی ] حجت او دليل دی.[١٥١]

---

[١٤٨] رواه الديلمي

[١٤٩] رواه البزار والبيهقي عن ابي سعيد الخدري

[١٥٠] رواه ابن البخار والديلمي عن ابن عباس (رض)

[١٥١] رواه الخطيب عن جابر (رض)

د عالم چې له خپل علمه مطلب او نیت، د الله تعالی رضا وي؛ نو ټول ځیزونه ترې ډارېږي او که مطلب یې د پیسو راټولول او د شتمنۍ ډېرول وي؛ نو له هر څه به ډارېږي[152].

عالم (پوه) او متعلم (زدکړیال) په هر خیر کار کې، شریک وي. په نورو خلکو کې دغسې خیر نه موندل کېږي[153].

علم د اسلام روح او د ایمان ستن ده، چا چې علم زده کړ، الله تعالی ورته پوره اجر ورکوي. څوک چې علم زده کړي او عمل پرې وکړي؛ نو چې پر څه نه پوهېږي، الله تعالی یې ور زده کوي[154].

## د بشر حقوق

د الله تعالی په نزد د مؤمن وژنه، د دنیا تر ورکېدو خورا ستره ده[155].

## د بوډاتوب نښې

الله تعالی وایي: بنده مې چې څلوېښت کلن شو، د لېونتوب، جزام او پیس له رنځوریو یې ساتم. چې پنځوس کلن شو، په حساب کې ورسره اساني کوم، چې شپېته کلن شو، توبه ورته

---

[152] رواه الدیلمي عن انس (رض)

[153] رواه الطبراني والقفاعي عن ابي الدردأ (رض)

[154] رواه ابو الشیخ عن ابن عباس (رض)

[155] رواه النسایي عن عبدالله (رض)

گرانوم، چې اویا کلن شي د پرښتو ښه ایسي، چې اتیا کلن شي نېکۍ یې لیکل کېږي او ګناهونه یې پاتېږي او چې نوي کلن شي پرښتې وایي، چې دا پر ځمکه د الله تعالی بندي دی، الله تعالی یې لومړی او روستي ګناهونه ښښي او د خپلې کورنۍ شفاعت هم کړای شي[١٥٦].

## له بنده سره د الله تعالی چلن

الله تعالی وایي: زه ستا د نیت له مخې درسره چلېږم او چې په هر ځای کې مې یاد کړې، درسره یم[١٥٧].

## د چارو وېش

الله تعالی وایي: بنیادمه! درې څیزونه دي، چې یو یې په ما پورې تړاو لري، دویم په تا پورې او دریيم، زما او ستا ترمنځ شریک دی: په ما پورې اړوند، دادی: ما ولمانځې او سیال راسره و نه نیسې، په تا پورې اړوند دادی: چې څه کوې، جزا یې مومې او زه ښونکی یم او لورین پښونکی یم؛ نو چې څه را نه غواړې او دعا کوې، قبلول او ورکړه یې پر ماده[١٥٨].

---

١٥٦ رواه الحكيم في نوادر الاصول عن عثمان بن عفان (رض)

١٥٧ رواه احمد الحاكم عن انس (رض)

١٥٨ رواه البزار عن سلمان (رض)

## سپينلمنتوب

الله تعالى چې څمکې ته پېغمبران او ځايناستي رالېږل؛ نو دوه پټې ځواکونه يې پکې ايښې دي: يوه قوه يې، نېکۍ او پر نېکيو امر او بله يې بد چارۍ ته. معصوم او سپين لمنى هغه دى، چې الله تعالى يې د نفس له شره خوندي وساتي.[١٥٩]

## د کور د مشر خيرات

د کور پالندوى، چې د کورنۍ غړيو او چوپړپالانو ته څه لګوي، په قيامت کې ورته خيرات شمېرل کېږي[١٦٠].

## پوهه او زغم

د پوهې او زغم ملګرتوب؛ خورا ارزښتمن چار دى[١٦١].

## پام!

چې دې ښه نه ايسي، څوک درنه ناوړه چار وويني؛ نو چې ځانته يې؛ نو هم ناوړچاري مه کوه.[١٦٢]

---

[١٥٩] رواه البخاري واحمد عن ابي سعيد الخدري(رض)

[١٦٠] رواه الطبراني عن ابي امامة(رض)

[١٦١] رواه الطبراني عن علي(رض)

[١٦٢] رواه ابن حبان عن اسامه بن شريک(رض)

## بې عدله چارواکی

د دې امت چارواکي چې پر عدالت و نه چلېږي؛ نو عذاب به يې د جهنم اور وي.[۱۶۳]

## د دوه مخی پایله

په دنيا کې دوه مخی، د قيامت پر ورځ دوه اورينې ژبې لري[۱۶۴].

## د وصیت ارزښت

چې څوک وصيت و نه کړي، اجازه نه ورکول کېږي، چې له مړيو سره خبرې وکړي.[۱۶۵]

## د لواطت پایله

زما په امت کې چې چا لواطت کړی وي او ومري؛ نو الله تعالی يې د لوط قوم ته وړي، چې ورسره حشر شي[۱۶۶].

---

۱۶۳ رواه الحاکم عن معقل بن يسار (رض)

۱۶۴ رواه ابو داود عن عمار (رض)

۱۶۵ رواه ابوالشيخ في الوصايا، عن قيس بن قبيصة (رض)

۱۶۶ رواه خطيب عن انس (رض)

## د دروغجن راوي برخلیک

چې څوک زما یوه خبره روایت کړي او ما ویلې نه وي؛ نو ځانته یې په جهنم کې ځای جوړ کړی دی[167].

## نیم زړښت

خپګان؛ نیم زړښت دی.[168]

## د خیالي هیلو برخلیک

کومې هیلې چې د انسان په خیال کې تېرېږي، چې عملي کړي یې نه وي یا یې په خوله راوړې نه وي، ورته بښل کېږي[169].

## د اودس ارزښت

تر خوړو مخکې روسته اودس کول، نیستي له منځه وړي، دا چار د پیغمبرانو سنت دی.[170]

## اولاد

اولاد د زړه مېوه او د جنت ګلونه دي[171].

---

[167] رواه احمد عن سلمة بن الاکوع(رض)

[168] رواه دیلمي عن عبدالله(رض)

[169] رواه ابو نعیم و الخطیب عن حذیفة بن الیمان(رض)

[170] رواه طبراني، عن ابن عباس(رض)

[171] رواه الترمذي عن خوله بنت الحکیم(رض)

## د نورو سوکالۍ ته ځان دوزخي کول

جهنم او ګردې بدۍ يې، د هغه لپاره دی، چې اولاد يې په خورا سوکالۍ کې ژوند تېر کړي او پخپله د الله تعالی پر لوري، په خورا بدمرغۍ ګام کېږدي. (يعنې کورنۍ ته يې حرام راوړي وي يا شتمن وي او زکات يې نه وي ورکړی)[١٧٢]

## د لونړو درناوی

لونړې مو مه ځوروئ او مه يې خپه کوئ؛ ځکه ارزښتمنې ملګرې دي.[١٧٣]

## د ښځې د مسافرت شرط

يوه ښځه هم دا حق نه لري، د دوه ورځو واټن هومره مسافرت وکړي، چې نه ورسره خپل مېړه وي او نه کوم محرم[١٧٤].

## د مسلمان ډارول ستر ظلم دی

مسلمان مه ترهوئ، چې د مسلمان ترهول، خورا ستر ظلم دی[١٧٥].

---

[١٧٢] رواه القضاعي في مسند الشهاب عن ابي عمر (رض)

[١٧٣] رواه احمد والطبراني عن عقبة بن عامر

[١٧٤] رواه البخاري عن ابي سعيد الخدري

[١٧٥] رواه طبراني عن عامربن ربيعة (رض)

## له مؤمن او متقي سره اړیکه

یوازې مؤمن سره ملګرتوب کوه او یوازې په متقي خواړه خوره[١٧٦].

## د ملګرتوب نښې

له هغه سره ملګرتوب مه کوه، چې په تا کې څه غوراوی او هنر نه ویني؛ لکه چې یې په ځان کې ویني(؛یعنې له داسې چا سره دوستي مه کوه، چې هغه ځان ستر بولي او تاته سپک ویني[١٧٧])

دکور ښځې مو د لوښو ماتولو له لامله مه وهئ؛ ځکه هر لوښي ته ټاکلی وخت دی؛ لکه چې انسان ته هم اجل او مړینه ده[١٧٨].

## د قضاوت شرط

قاضي باید د غوسې پرمهال د دوو تنو ترمنځ قضاوت و نه کړي(ځکه غوسه عقل له منځه وړي.[١٧٩])

## د وسې هومره عزت

مېلمه ته د خپل وس هومره تیاری ونیسئ[١٨٠].

---

[١٧٦] رواه ابوداود و الترمذي عن ابي سعيد الخدري(رض)

[١٧٧] رواه ابو نعيم عن سهل بن سعد الساعدي (رض)

[١٧٨] رواه ابو نعيم عن كعب بن عجرة(رض)

[١٧٩] رواه البخاري و مسلم عن ابی بكرة الثقفي(رض)

[١٨٠] رواه الحاكم والبيهقي عن سلمان الفارسي(رض)

## نېکچاری کارګر

د الله تعالی هغه کارګر ښه ایسي، چې خپل چار ښه ترسره کړي[181].

اساني کوئ، سختي مه کوئ، خلکو ته(په نېکۍ) زېری ورکړئ او د الله تعالی له لورنې یې مه نهیلوئ، داسې چار و نه کړئ چې خلک له دینه کرکه پیداکړي[182].

## ناوړه راتلونکې

پر خلکو به داسې وخت راشي، چې مؤمن به تر پسه یې خورا ذلیل او خوار وي.[183]

## د چارو پای ته ګورئ

د هر کوونکي کړنو ته مه حیرانېږئ، عواقبو او پایلو ته یې سترګې پر لار وسئ، چې ځرنګه پای مومي (چې پای یې ښه ده که بده)[184].

---

[181] رواه الطبراني والبيهقي عن كيب بن شهاب الجرمي مرسلاً

[182] رواه البخاري ومسلم عن انس(رض)

[183] رواه ابن عساكر عن علي(رض)

[184] رواه احمد عن انس والطبراني عن ابي امامة(رض)

## د گناه مخنیونکی رښتونی ډال

یوه کړنه هم د (( لااله الاالله)) پر کلمې ور مخکې کېدای نشي؛ (که څوک یې په رښتیا ووایي؛ نو) دا کلمه گناه نه پرېږدي، چې پر انسان ور تېره شي)[۱۸۵].

## د کوروالي شرایط

رسول اکرم، تر ملاعبې مخکې کوروالی منع کړی دی[۱۸۶].

## آگاهانه خوب

کوم خوب چې پر پوهې او علم ترسره شي، تر هغه لمانځه غوره دی، چې په ناپوهۍ کېږي.[۱۸۷]

## غوره وسله

زغم او دعا د مؤمن غوره وسله ده.[۱۸۸]

---

۱۸۵ رواه ابن ماجه عن ام هاني (رض)

۱۸۶ رواه الخطيب عن جابر (رض)

۱۸۷ رواه ابو نعيم عن سلمان الفارسي (رض)

۱۸۸ رواه الديلمي عن ابن عباس (رض)

## په مينې د کتو پايله

چې څوک خپل رور ته په مينه ګوري، پدې جومات کې تر يوه کال (( سنت اعتکافه )) غوره دي[189].

## د ملګرتوب پايله

هر انسان له هغه سره وي، چې ورسره مينه لري. (يعنې يو له بل سره مينوال، په قيامت کې يو ځای محشورېږي)[190].

چې څوک د الله تعالی لپاره يو له بل سره مينه ولري، د عرش ترڅنګ به د ياقوتو پر چوکيو ناست وي.[191]

مؤمن د مؤمن رور دی او په هر حال کې نصيحت ورته کوي.[192]

تمت باالخير

---

[189] رواه الحکيم فی نوادر الاصول عن عبدالله (رض)

[190] رواه البخاري و مسلم عن ابن مسعود (رض)

[191] رواه طبراني عن ابی ايوب الانصاري (رض)

[192] رواه ابن النجارعن جابر (رض)